Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۹مه ګڼه | پرله‌پسې ۲۳مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۳/۳/۸



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- کابل کې د صنعت اوونۍ د څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل

۲- صنعتکارانو ته د ځمکې د ملکیت د وېش لړۍ پیل شوه

۳- قزاقستان په افغان-ټرانس پروژه کې ۵۰۰ میلیونه ډالر پانګونه کوي

# کابل کې د صنعت اوونۍ د څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان نړیوال نندارتون په مرکز کې د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیست. په پرانیست غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم عبدالسلام حنفي، د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر نورالدین عزیزي، یو شمېر امارتي مسوولینو او ګڼو کورنیو او بهرنیو سوداګرو ګډون کړی وو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې صنعت د هر ملت د پرمختګ اساس یاد کړ. محترم ملا صاحب زیاته کړه، نن ورځ موږ د هغو هېوادونو د پرمختګ شاهدان یوو چې د صنعتي انقلاب له برکته یې خپل زیربنایي بنسټونه قوي کړي، بېکاري یې له منځه وړې او خپلو تولیداتو ته یې ښه مارکېټونه پیداکړي دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د یاد نندارتون جوړېدل ښیي چې اسلامي امارت له وارداتي اقتصاد څخه صادراتي اقتصاد ته د افغانستان د حرکت او بدلون قوي اراده لري. نندارتونونه د یو هېواد اقتصادي ودې له پاره ډېر مهم دي. په نندارتونونو کې د خپل هېواد تولید شوي توکي هېوادوالو او بهرنیانو ته وړاندې کېږي. په دغه نندارتون کې هم په ۷۰۰ غرفو کې د افغانستان کورني صنایع، تولیدات او محصولات ننداري ته وړاندې کېږي. د افغانستان اسلامي امارت د هېواد صنعتي پرمختګ ته ژمن دی. د اسلامي امارت له راتګ وروسته تر اوسه ۱۵۰۰ نوي فابریکې جوړې شوې چې شاوخوا ۷۰ زره هېوادوالو ته په کې د کارزمینه برابره شوې ده.

افغانستان اوسمهال په ۱۳۸ صنعتي او تولیدي سکټورونو کې ځان بسیاینې ته رسېدلی دی. په هېواد کې وروستیو صنعتي فعالیتونو د بېکارۍ کچې کمولو او اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لوبولی دی.

اسلامي امارت د هېواد د صنعتي او اقتصادي پرمختګ له پاره بې ساري ګامونه اخیستي دي. د دې له پاره یې په بېلابېلو ولایتونو کې د صنعتي پارکونو جوړولو له پاره د ځمکو ورکړه پیل کړې، چې تر اوسه ۸۰ زره جریبه ځمکه انتقال شوې او پاتې چارې یې په چټکۍ روانې دي.

د یو هېواد اقتصاد هغه مهال ښه وده کولی شي چې اوسېدونکي یې د خپلو بزګرو، مالدارو او صنعت کارانو محصولات او تولیدات وکاروي. د دې له پاره چې د هېواد اقتصادي وده نوره هم ګړندۍ او اقتصادي نظام مو د نورو په څېر د پرمختګ او پراختیا په لور لاړ شي، نو ضروري ده چې هېوادوال خپل کورني محصولات او تولیدات وکاروي.

د یادونې وړ ده چې یاد نندارتون د غبرګولي په شپږمه نېټه پرانیستل شوی، د همدې میاشتې تر یوولسمې نېټې پورې به دوام وکړي او تمه ده چې زرګونه هېوادوال به له دغه نندارتون څخه لیدنه وکړي. په یاد نندارتون کې د کرنې، کانونو، روغتیا، لاسي صنایعو او نورو برخو کې بېلابېل محصولات او تولیدات ننداري ته وړاندې شوي دي.

# صنعتکارانو ته د ځمکې د ملکیت د وېش لړۍ پیل شوه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضورکې د ۱۴۰۴ کال د غبرګولي په اوومه نېټه یو شمېر صنعتکارانو ته د ځمکې د ملکیت د سند د وېش لړۍ پیل شوه.

دغه مراسم چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت په تالار کې جوړ شوی و، د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ سرپرست وزیر، یو شمېر نورو امارتي مسوولینو، سوداګرو او پانګوالو په کې ګډون کړی و.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، صنعت د یو هېواد د اقتصادي ځان بسیاینې، ټولنیز ثبات او د بېکارۍ کچې کمولو تر ټولو مؤثره لاره ده. په هېواد کې د اقتصادي ودې او پرمختیا، د خصوصي پانګې د جلب او جذب او د صنعتي ساحو د مدیریت، ساتنې او مراقبت په موخه د افغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري د صنعتي ساحو قانون توشیح شوی دی، چې په

صنعتي ساحو کې صنعتکارانو او پانګوالو ته د صنعتي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره لازمي زمیني او نوري اړونده اسانتیاوې برابروي.

په دغو مراسمو کې ۹۱ صنعتکارانو ته د صنعتي فعالیتونو په موخه په صنعتي ساحو کې د ځمکې د ورکړې د ملکیت سندونه ورکړل شول. د امارتي مسوولینو په وینا، یادو ۹۱ صعنتکارانو ته په بېلابېلو ولایتونو کې ۶۵۰



جریبه ځمکه ورکړل شوه.

د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري په هېواد کې د صنعتي فعالیتونو د زیاتېدا او کاري فرصتونو د ایجاد په موخه د کابل په ګډون په ولایتونو کې ځمکې خاص کړې دي، څو پانګوال په کې صنعتي فعالیتونه پیل کړي. صنعتکارانو ته د ځمکې د ورکولو موخه د هېواد د اقتصادي پرمختګ دی.

اسلامي امارت کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته ځانګړي امتیازات او اسانتیاوې اعلان کړې دي. پانګوال کولی شي چې له دغو فرصتونو څخه په استفادې په افغانستان کې پانګونه وکړي او خپل صنعت، تجربه او پانګه په افغانستان کې مصرف کړي. اسلامي امارت ټولو پانګوالو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي او ټولې اسانتیاوې یې ورته برابرې کړې دي.

---

## قزاقستان په افغان-ټرانس پروژه کې ۵۰۰ میلیونه ډالر پانګونه کوي

قزاقستان په رسمي توګه اعلان وکړ چې پلان لري په افغان-ټرانس پروژه کې نیم میلیارد ډالر پانګونه وکړي. روسیې هم په دغه پروژه کې لېوالتیا څرګنده کړې ده.

د تېرې ثورمیاشتې په لومړیو کې د هېواد د ټولګټو وزارت د اوسپنې پټلۍ مرستیال




ازبکستان ته سفر کړی و او هلته یې د هغه هېواد د اوسپنې پټلۍ له رییس سره د افغان-ټرانس پروژې د امکاناتو د ارزولو هوکړه لاسلیک کړې وه.

افغان-ټرانس پروژه د سیمې د سوداګریز نښلون له پاره ډېره مهمه پروژه بلل کېږي. د دې پروژې موخه د افغانستان له لارې د هند له بحر سره د منځنۍ اسیا د هېوادونو نښلول دي.

د یادې پروژې اوږدوالی ۵۷۳ کیلو متره دی، چې پلي کېدل یې د افغانستان له پاره ډېرې ګټې لري. د افغان-ټرانس پروژې په پلي کېدو سره به افغانستان د سیمې ترمنځ د ترانزیټ په څلور لارې بدل شي، چې دا به د هېواد په اقتصادي پرمختګ او د سوداګرۍ په غوړېدو کې مهم رول ولوبوي.

د افغان-ټرانس پروژې پلي کېدل نه یوازې د افغانستان، بلکې د سیمې او ښکېلو هېوادونو د اقتصادي ودې، کاري فرصتونو د ایجاد، ترانزیټي لګښت کې د کموالي او سوداګرۍ د زیاتوالي له پاره مهم دي.